# د خوشحال خان د سیاسي تحریک پښتو شاعرۍ ته بخښنې

# Impact of Khushal Khan Political Struggle on Pashto Literature

Shazia Naz [1]

Khushal Khattak is a renowned figure in Pashto literature and political reawakening of Pashtoons. He is also known as the poet of sword and pen. His writings greatly influenced the political status of Pashtoons in particular. In this article the salient features of his poetry, which greatly which greatly admired the political arena of Pakhtoon, have been highlighted.

تحریک په معنٰی د رڼا وي او د رڼا ضرورت هلته راپیدا کېږي چرته چې تیارهٔ وي ـ مونږ چې د دنیا په سر څومره سیاسي تحریکونه وینو د هغې په شا د هغې قام تیارهٔ پرته وي د کومې نه چې رڼا زیږدلې وي ـ لکه غني خان وائي چې ! "تیارهٔ شوه لنګه رڼا ئې راوړه"۱ دلته هم دغه خبره مخې ته څرګندېږي چې سختې پسې راته رائحي ـ هم دغسې هر کله چې مغلي استعمار په هندوستان خپلې پنجې ښخې کړې نو په هندوستان او افغانستان کښې هغه قامونه چې مغلو سره ئې پلرنۍ دښمنۍ وې هغوي باندې د مغل له خوا تیارهٔ راغله ـ په دغه قامونو کښې یو قام پښتون قام هم وهٔ چې ځینې قبیلې ئې د هندوستان په خاوره مېشته وې ولې په بشپړه ډول د امو او اباسین تر مینځه مېشته وو ـ دې قام هم اول د خلجي کورنۍ او بیا د لودهي کورنۍ له خوا په هندوستان حکومت کړے وهٔ مغلو حکومت هم د دوي نه اخستے وهٔ ـ له دې وجې د بابر نه تر اورنګزیب مغلي باچاهانو نهٔ خو پښتون په قلاره پرېښودو او نهٔ پښتنو دوي په قلاره پرېښي دي ـ له دې وجې چې کله د کابل نه یوسفزي راغلل اول په دوآبه او بیا ئې ملاکنډ، مردان او صوابۍ ونیوله نو دا سیمه ئې په ازاده پښتونخوا باندې وبلله ـ د دې ازادې پښتونخوا ریاست له وجې یوسفزو خپل ځانونه مضبوط کړل اخر دا وشوه دا چې د مغلو سره ئې خپلې زړې دښمنۍ راواخستې ـ د دې دښمنو له وجې مغلو ته لویه ستونځه دا راولاړه شوه چې د اټک نه تر خیبر لار یوسفزو ونیوله کوم چې د نوښار ، مردان او پېښور جرنیلي سړک دے ـ

1 Ph.D Scholar Pashto Academy UOP

د مغلو قافلې یا تجارتي سامان کابل او یه مینځۍ اېشیا ته ورل راوړل هم په دې لاره کېدل ـ له دې وجې دا لاره د یوسفزو په سیمه تېرېده ـ د یوسفزو او مغلو خپلو کښې یو بل ته زړونه نهٔ سپینېدل ـ اخر مغلو دا وکړل چې د سیمې د کنټرول او د خپلو قافلو او تجارتي سامان ته د بدرګې د پاره ئې د خټکو یو قبیله د تېرې نه راوچته کړه او د نوښار د لنډي سیند په غاړه ئې اباده کړه ـ دې قبیلې ته تې سرداري هم ورکړه او ورسره ئې د د یوسفزیو نه د زمکې د قبضه کولو اجازت هم ورکړو ـ د دغه قبیلې مشر اکوړخان ؤ د چا په نوم چې نن سبا اکوړے کلے اباد دے۔ دا قبیله نن سبا د نوښار په چراټ او نظام پور په علاقه کښې اباد دي ـ

اکوړ خان د مغلو دغه منصب ښهٔ په نره سر ته رسو۔ ډېر موده ئې د مغل حکمران د پاره د یوسفزو او د مغلو نه ځینې نورې باغي پښتنو قبیلو سره ښخړې وکړې ـ د اکوړخان نه پس د هغهٔ زوے ملک یحی خان ته منصف په غاړه شوے وۀ، د ملک یحئي خان نه پس د هغهٔ زوے شهباز خان د قبیلې سردار او د مغلو منصب دار ګرځېدلے وۀ ـ شهباز خان د پښتنو د نابغه خوشحال خان خټک پلار وۀ چې یوسفزو سره په جنګ کښې مړ شوے وۀ ـ د دې نه پس سرداري د خوشحال په غاړه شوې ده ـ دلته به د خوشحال خان خټک د ژوند لنډ شان بیان وکړو:

خوشحال خان خټک په کال ۱۶۱۳ء او ۱۰۲۲ هجري کښې د خټکو د سردار شهباز خان کره پیدا شو۔ لکه ځنګه چې مونږه مخکښې ووئیل چې دغه کورنۍ د مغلو منصبداره وه نو دغسې د خوشحال په برخه به هم دغه منصب وۀ ـ دغه کورنۍ علمي وه خوشحال خټک خپلې وړومبۍ زدکړې هم په خپل کور کښې کړې دي ـ هغه د خپل ماشومتوب په حقله وائي چې په ما باندې ډېرې سختې تېرې شوې دي ـ دغه سختې هغهٔ په یو شعر کښې بیان داسې ډول بیان کړې دي ـ

لا یو شور راځینې لاړ نهٔ وي بل راشي
جوړې زهٔ پېدا په ورځ د شور او شر یم ۲

خوشحال بابا چې کله رازلمے شو نو دهٔ ته په میراث کښې تُوره راغله ـ دغه وخت چې د خوشحال خان بابا پلار شهباز خان چې د مغلو د پاره جنګېدو نو دغه شان خوشحال بابا ته هم جنګونه کول په

غاړه شول ـ د حکومت نه ټول باغي شوي يوسفزي قبيله د دوي ازلي دشمنه ګرځېدلے وه ـ د دې په حقله ډاکټر يارمحمد مغموم ليکي !

”خوشحال د ديارلسو کالو په عمر کښې په جنګونو کښې د شريکېدو ابتدا کړې وه ـ د خټکو او يوسفزو په مېنځ کښې سخته دشمني وه ـ د دې يوه وجه خو دا وه چې خټک له جنوبه د شمال په لور خوارهٔ شول نو د منديو په علاقه کښې هم ورننوتل ـ يوسفزو په خپله علاقه کښې د دوي مخه نيوله ـ“۳

هم په دغه جنګونو کښې چې د خوشحال خټک پلار شهباز خان وفات شوے وهٔ او خوشحال خان پکښې په خپله زخمي شو ـ هر کله چې د دغه زخم نه روغ شو نو يوسفزو باندې ئې واپس چپاؤنه وکړل او هم دغه شان دغه جنګونه روان وو ـ بيا کله چې د شاه جهان باچا دور لاړو او د هغهٔ زوے اورنګزېب تخت نشين شو نو د هغهٔ پاليسي د پلار په نسبت خټکو سره بل شان وه ـ د خوشحال جېل ته د تلو يا قېدولو اسباب تر اوسه هېڅ يو مؤرخ په سمه توګه نهٔ دي بيان کړي چې خوشحال په څهٔ وجه جېل ته تلے دے يا قېد کړے شوے دے ـ خو په کال ۱۰۷۴هجري کښې خوشحال خټک مغلو قيد کړو ـ د دغه قېد په حقله خان په خپله هم څهٔ نهٔ دي ليکلي چې آيا زهٔ په څهٔ وجه قېد کړے شوم خو دغه شعرونه ئې د ديوان څهٔ دا وائي:

ما وې زهٔ به د مغل په نوکرئ کښې
رقيبونه کړم د سرو او سپينو نال
برناحق ئې زنځيرونه را په پښو کړل
واه واه هسې نوازش هسې مال ۴

هم له دغې نه پس چې کله خوشحال خټک دننه کوم شخصيت وهٔ هغه د قامي خپلواکۍ د پاره پکار راوستے شو ـ له دغه پس نه مونږ ته زمونږه اتل خوشحال خان خټک په لاس راغلے دے ـ او هم له دغه ځايه چې د خوشحال څومره مبارزه ده هغه د افغان اولس په کته کښې رائجي هم دغه وخت هغهٔ وئيلي وو چې !

د افغان په ننګ مې وتړله تُوره
ننګیالے د زمانې خوشحال خټک یم ۵

هر کله چې خوشحال خان د دې جنګونو ستړے شو نو د افرېدو د ډمبره علاقه کښې ئې پناه واخسته او هم دلته په ۲۸ ربیع الثاني ۱۱۰۰ هجري کښې وفات شو۔

## د خوشحال ادبي زيار

خوشحال خان خټک د پښتو ادب هغه نابغه شخصیت دے په خپل ځان کښې دننه یو تحریک، یو مکتب او یو دور پاتې دے ـ چې خپل اثرات ئې په پښتو ادب تر ابده پرېښي دي ـ هغۀ د تورې سره سره له قلم هم دومره کار اخستے دے چې نن مونږ دا نۀ شو وئیلے چې هغه د تُورې خاوند زیات وو او که د قلم ـ بقول مېجر روارټي چې د هغۀ دوه نیمه سوه تصنیفات وو خو له بده مرغه د پښتو ادب په لاس رانغلل ـ دلته ئې زۀ د کتابونو لنډه پېژندګلوي بیانوم ـ

## دیوان خوشحال خان خټک یا کلیات

دا د خوشحال خان د کلام مجموعه ده چې قصیده، رباعیات، قطعات، مربع، مخمس، مسدس، ترجیح بند نظمونه دي ـ "دا په اول حبیبي صاحب د قندهار نه سره د مقدمې او خاشئې چاپ کړې دي" ۶ د دې نه ورستو دغه دیوان د ارمغان خوشحال خان خټک په نوم د سېدالرسول رسا د مقدمې سره او ورستو د کلیات خوشحال خان خټک د ډاکټر یار محمد مغموم په سمونه او څېړنه چاپ شوے دے ـ

## بازنامه

دا یوه مثنوي ده چې د بازونو د ترتیب ، قسمونو رنځونو، دارو درملو او د باز د ښکار په تربیت لیکل شوے کتاب دے ـ په اول ځل د کابل نه په ۱۹۴۴ء کښې چاپ شوے دے چې ورستو پښتو اکېډمۍ پېښور هم چاپ کړے دے ـ

## سوات نامه

دا هم یوه مثنوي ده چې د سوات د سیمې سفرنامه ګڼل کېږي خوندي شوې ده ـ دا مثنوي په کال ۱۰۷۵ هجري کښې لیکل شوې ده ـ په دې کښې د سوات په جغرافیه ، موسم ، کلتور، د خلقو په نفسیاتي او ټولنیز ژوند خوشحال په ډېر ښۀ ډول بیان کړي دي او په خلاص مټ ئې پرې لیکل کړي دي ـ

## دستارنامه

دستار نامه د خوشحال خټک د نثر هغه زیار دے چې یو طرف ته ئې جدید نثر متعارف کړے دے بل طرف ته ئې ګڼل کېږي د پښتنو د ائیډیل بشپړه سړي تکمیل هم د شل خویونو او شل خصلتونو په بابونو کښې خوندي کړے دے چې مخې ته ترې سردار یا د دستار سړے رائحي ـ دا کتاب په ۱۰۷۶ هجري کښې لیکل شوے دے

چې دستار ترې هزار دي
د دستار سړي په شمار دي ۷

د دې نه علاوه ئې نور هم واړۀ واړۀ تصنیفات دي چې نامې ئې په دا ډول دي ـ

فضل نامه، طب نامه صحت البدن ، رساله مناظره ، هدایه و کفایه ، فرح نامه، ائینه ، فراق نامه، تفسیر سوره یوسف ، ریاض الحقیقت ، عیار دانش ، زنځیري ، اخلاق نامه ، فال نامه ، بیاض، نام حق .

د دې دومره کار او زیار له وجې نن خوشحال خان خټک خپل یو داسې مقام او نوم موندلے دے چې مونږ په جار لګه د خوشحال خان خټک وئیلے شو چې !

خټک لا پرېږده په درست افغان کښې
که به زما شان فرهنګیالے راشي ۸

خو ولې نن مونږه درست افغان کښې نه بلکې په درست جهان کښې دغه دعوه لرو چې زمونږه دا تحريکي انسان خپله ثاني نۀ لري ځکه چې دۀ ته الله پاک يو لوړ مقام او لوے همت ورکړے وۀ چې د هغې په وجه دے يو خپل حېثيت لري -

## ماخذونه


۱: غني خان ، لټون، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ۲۰۱۴، مخ۳۴

۲: د خوشحال بابا کليات ، سمونه ډاکټر يارمحمد مغموم، يونيورسټي بک ايجنسي،۲۰۱۶، مخ ۲۷

۳: مغموم ،ډاکټر يارمحمد، د خوشحال بابا کليات، يونيورسټي بک ايجنسي ،۲۰۱۶، مخ ۳۱

۴: د خوشحال بابا کليات ، سمونه ډاکټر يارمحمد مغموم، يونيورسټي بک ايجنسي۲۰۱۶، مخ ۳۹،

۵: ارمغان خوشحال ، مقدمه سېدرسو رسا، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور،۲۰۰۶، مخ ۳۴۵

۶: ديوان خوشحال خان خټک ، زېب پبلشر پېښور، ۲۰۱۳ء مخ ۷

۷: دستارنامه ، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون،

۸: د خوشحال بابا کليات ، سمونه ډاکټر يارمحمد مغموم، يونيورسټي بک ايجنسي۲۰۱۶، مخ ۲۳۴